# د آلِ نبيِ فضيلتونه

**03-August-2023**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پہ3 اګست کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د آلِ نبـي فضيلتونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عَلِـيُّ المُرتضٰى رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د نبيانو سلطان، آقائے ذيشان صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلدُّعَاءُ مَحْجُوْب عَنِ اللهِ حَتّٰى يُصَلِّيَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ دُعا د الله پاک نه په حجاب (يعني پرده) كښې ده"يعني دعا الله تعالی ته نه رسيگی" ترخو چې په مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي په اهلِ بيتو باندې دُرُود اونه ليږلے شي.[1]

مصطفٰی جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام
شمعِ بزمِ ہدایت پہ لاکھوں سلام

پارہائے صُحُف، غنچہائے قُدُس
اَہلِ بَیْتِ نبوت پہ لاکھوں سلام

وضاحت: يعنې د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځيګر په ټوټو، د نبوت د باغ په خوشبو دارو غوټو يعنې په اهلِ بيتِ كرام باندې دې ډير ډير سلام وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...كنز العمال، كتاب الاذكار، الباب الثامن فى الدعاء، جزء:، /، حديث:.

# د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نيت افضل ترين عمل دے، د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د نظر ښکته ساتلو سره به په توجه سره بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم په خاطر چې څومره وخت کيدے شي د اَلتَّحِيَّات په شکل به کښينم ❀ د ضرورت مطابق به د ځان راټولو سره نورو ته به ځائے پريږدم ❀ که ديکه وغيره راکړے شوه نو صبر به کووم ❀ چا ته په يو نظر د کتلو، رټلو، جګړې نه به ځان ساتم ❀ د بيان نه پس به پخپله ده وړاندې کيدو سره مسلمانانو ته سلام کووم ❀ لاس به ميلاوهم ❀ او د انفِرادي کوشش کولو سره به د نيکئ دعوت ورکووم.اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! تيمور لنګ د تيموري سلطنت باني او وړومبے حکمران دے. په 1336 عيسوئ کښې پيدا شو او په 1405 عيسوئ کښې يعنې د 69 کالو په عمر کښې وفات شو، هغوئي د 10 کالو په عمر کښې قرآنِ کريم حفظ کړے وو. شيخ زينُ الدِّين بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تيمور لنګ په مرضِ المَوت (يعنې هغه آخري بيماري د کومې په سبب چې هغوئي وفات شول، په هغې) کښې مبتلا وو، يوه ورځ د ډير غم په وجه د هغه مخ تور شو، رنګ ئې بدل شو، لږ وخت پس چې ئې کله حالت لږ تيک شو نو

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

خلقو ئې حالت بیان کړو چې د بیمارۍ د زیاتوالي په سبب ناڅاپه د هغوئي مخ تور شوے وو، رنګ ئې بدل شوے وو، په دې باندې تیمور لنګ اووئیل: ما د عذاب فرښتې لیدلې وې، هغه زما په لور را روانے وې، د دې لیدلو سره په ما باندې غم ډېر غالب شو د کوم په وجه چې زما رنګ تور شوے وو، بیا زر د اُمَّت غمخوار نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو او فرښتو ته ئې اوفرمائیل: دے پرېږدئ ځکه چې دے زما د اولاد (یعنې د سیدانو) سره محبت کوي. دا ئې چې واوریدل نو فرښتې بیرته لاړې.

علامه یوسف بن اسماعیل نبهاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: تیمور لنګ د وفات نه پس چا په خوب کښې اولیدلو چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما [یعنې ناست] دے او په خوا کښې ورسره تیمور لنګ هم ناست دے، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم خوب لیدونکي ته اوفرمائیل: اے محمد بن حَسَن! تیمور زما د اولاد سره محبت کوي.[1]

| | |
|---|---|
| فضلِ رَبّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا | دِل سے جو شیدا ہوا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| اے خُدائے مصطفٰے! ایمان پر ہو خاتمہ | مغفرت کر! واسطہ اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| جینا مرنا اُن کی اُلفت میں ہو یا رَبّ! اور ہو | قُرب جنّت میں عطا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د هغوئي د پاکۍ بیان خدائے پاک فرمائي

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اولادِ پاک ډیرې

[1] الشرف المؤبد مترجم، ص:۲۶۱

اوچتې مرتبې والا، عظمت او شان والا او ډير اوچت مقام والا دے. الله پاک ارشاد فرمائي:

اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَ يُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾

(پ22، الاحزاب:33)

مفهوم ترجَمۂ كنزُ العرفان: اے د نبـي كور والـؤ! الله خو هم دا غواړي چې ستاسو نه هره ناپاكي لرې كړي او تاسو پاک كړي او ښه مو صفا كړي.

په تفسيرِ نورُ العرفان كښې دي: د دې دا مطلب نه دے چې د آيت مبارک د نازليدو نه مخكښې اهلِ بيتِ پاک تر اوسه پورې مَعَاذَالله! ګنهګاران وو، د دې نه پس ورته پاكي عطا شوه بلكه مطلب دا دے چې اے اهلِ بيتو! الله پاک به تاسو د ګناهونو او بد اخلاقئ په پليدئ سخا كيدو ته نه پريږدي. د دې نه معلومه شوه چې د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاكې بيبيانې او د هغوئ پاک اولاد د ګناهونو نه پاک دے.[1]

## د ټولو بدو اخلاقو نه پاک

صدر الافاضل مفتـي محمد نعيمُ الدين مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا آيت مبارک د اهلِ بيتِ كرامو د فضيلتونو اصل دے. د دې نه د اهلِ بيتِ پاک د اعلٰـی خاصيتونو او د اوچت شان او عظمت اظهار كيږي او د دې نه معلوميږي چې الله پاک اهلِ بيتِ پاک د ټولو بدو اخلاقو نه پاک ساتلي دي بلكه هر هغه خيز كوم چې د دوئ د اوچت مقام او مرتبے لائق نه وي، الله پاک هغوئ د دې نه محفوظه ساتي او بچ كوي ئې.[2]

ان کی پاکی کا خدائے پاک کرتا ہے بیاں
آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اہلِ بیت

[1]… تفسير نور العرفان، پ۲۲، الاحزاب، تحت الآية:۳۳.

[2]… سوانح كربلا، ص۸۲.

## په اهلِ بيتو کښې څوک شامل دي؟

حضرت امام فخرُ الدين رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بيان کړے شوي آيت لاندې فرمائي: اهلِ بيتِ اطهار څوک دي، په دې کښې مختلف اقوال دي. دا وئيل اَولٰی دي چې د سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول اولاد، د هغوئي پاکې بيبياني اهلِ بيت دي. حضرت امام حسن او حسين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما او حضرت مولا علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم په دې کښې شامل دي.[1]

## آيا ساداتِ کرام به دوزخ ته ځي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دلته دا خبره په ذهن کښې ساتئ چې اهلِ بيتِ پاک د ګناهونو نه محفوظ دي معصوم نه دي ځکه چې معصوم صرف انبيا او فرښتے دي. د محفوظ مطلب دا دے چې د دوئي نه ګناه کيدل ممکنه خو ده خو الله پاک دوئي د ګناهونو نه بچ کوي او د معصوم مطلب دے: هغه حضرات د کومو نه چې ګناه کيدل شرعاً ممکن نه وي.

بيا دا هم ياد ساتئ چې په ساداتِ کرامو کښې هغه د اوچتې مرتبے حضرات کوم چې ولـيُّ الله دي لکه بي بي فاطمةُ الزهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، امام حَسَن او امامِ حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما، هم داسې حضور غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني، حضور داتا ګنج بخش علـي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِمَا وغيره، دوئي خو د ګناهونو نه محفوظ دي، نور چې کوم ساداتِ کرام دي، د هغوئي نه ګناهونه خو کيږي خو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے

---

[1]...تفسير الكبير، پ، الاحزاب، تحت الآية:، /.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسیله به هغوئي په ګناهونو نه رانیولے کیږي. دې لړ کښې د عاشقِ صحابه او اهلِ بیت اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه 2 مبارک فرامین واورئ!

(1) هر سید صحیح النسب (یعنې هغه سَیِّد کوم چې واقعي په عِلمِ الٰهی کښې د حَسَنینِ کَرِیمَین په اولاد کښې وي، هغه) د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدنِ اَقدَس حصه ده او د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدنِ اقدس یوه حِصَّه هم د اُور حقداره نه ده.[1]

(2) په یو بَل ځائے کښې فرمائي: آو! سلامت ایمان (یعنې د کوم سید زاده ایمان چې سلامت وي د هغه) اعمال چې څنګه هم وي د اللّٰه پاک په کرم سره پوخ امید دا دے چې کوم د هغه په علم کښې سیدان دي د هغوئي اصلاً په څه ګناه باندې څه مواخذه اونه فرمائي.[2]

باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اہلِ بیت
تم کو مژدہ نار کا اے دشمنانِ اہلِ بیت

کس زباں سے ہو بیانِ عزّ و شانِ اَہلِ بیت
مدح گوئے مصطفٰے ہے، مدح خوانِ اہلِ بیت

ان کی پاکی کا خُدائے پاک کرتا ہے بیاں
آیۂ تَطْہِیر سے ظاہِر ہے شانِ اَہلِ بیت

ان گھر میں بے اجازت جبرائیل آتے نہیں
قدر والے جانتے ہیں قدر و شانِ اَہلِ بیت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## څه! تا خپل ځان د دوزخ نه بچ کړو

د حضرت عبدُ اللّٰه بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې یو کَس د خوږ آقا، مکي مدني

[1] ... فتاوی رضویہ، ۱۵/ ۴۳۸ بتقدم وتاخر.
[2] ... فتاوی رضویہ، ۲۹/ ۶۴۰.

مصطفٰـی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حجامه اوکړه او د بدن مبارک نه چې کومه وينه ووتله د ديوال نه شاته کيدو سره ئې هغه اوڅښله. هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د هغوئي نه پوښتنه اوکړه په وينه دې څه اوکړل نو عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو وينه مبارکه وه، ما هغه په زمکه توئي کول نه غوښتل، هغه اوس زما په خيټه کښې ده. دا ئې چې واوريدل نو هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "**ځه! تا ځان د دوزخ نه بچ کړو.**"[1]

په مَدارِج النبوة کښې دي: د جنګِ اُحُد په موقع باندې چې کله حضور اقدس صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زخمي شو نو حضرت مالک بن سنان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د زخمونو وينه [په خُله باندې د راښکلو سره] اوڅښله. په دې باندې حضور اقدس صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي له زيرے ورکړو "**چې څوک جنتي سړے ليدل غواړي نو ده ته دې اوګوري.**" [2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! غور اوکړئ! کومو صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک بدن نه وتلې وينه مبارکه اوڅښله، هغوئي د دوزخ نه **محفوظ** او د جنت حق دار شول نو هغه پاک حضرات کوم چې د دغې وينې نه پيدا شوي دي او هغه مبارکه وينه د دوئي په رګونو کښې روانه ده، هغوئي ته د دوزخ تَپ څه سنګه رسيدے شي؟ [3]

## الله پاک وعده فرمائيلې ده چې...!!

رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زما رَبّ زما سره وعده فرمائيلې ده چې

---

[1] ... المواهب اللدنية، المقصد الثالث، الفصل الاول فى كمال خلقته... الخ، / ، ملتقطًا.

[2] ... سنن سعيد بن منصور، كتاب الجهاد، باب من جرح فى سبيل الله، / ، حديث: ملخصًا مدارج النبوت، باب اول در بيان حسن خلقت و جمال، حصه۱، ص۲۶، ملخصا.

[3] ... مطلع القمرين، ص۶۱ ملخصاً.

زما په اهل بیتو کښې کوم د الله پاک د وحدانیت او زما د رسالت اقرار کوي الله پاک به هغوئي له عذاب نه ورکوي.[1]

آل واَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں، بادشاہ | میں فقط ادنیٰ گدا اَصحاب واٰہلِ بیت کا

## د هغوئي په شان څوک هډو کیدے نشي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** یاد ساتئ! وینه حرامه ده، انسان خو انسان دے د یو حلال ځاروي وینه څښل هم جائز نه دي ځکه چې وینه ناپاکه وي خو زمونږ د آقا و مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځانګړے شان دے، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بے مثله او بے مثاله دي، د هغوئي وینه مبارکه ناپاکه نه ده، ډیرو صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوَان د پاک بدن نه وتې وینه مبارکه څښلې ده او خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې نه منع نه ده فرمائیلې. شارِح بُخاري علامه بدرُ الدین عیني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ مزید نور فرمائي: (د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وینې مبارکې حکم د عام انسانانو په شان نه دے او) د کوم قول نه چې دا لازم راشي چې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عامو انسانانو برابر دے، هغه د چا جاهل، بے وقوفه خبره کیدے شي، چرته هغه اوچتې مرتبے والا! او چرته عام انسان...!![2]

آپ جیسا کوئی ہو سکتا نہیں | اپنی ہر خوبی میں تنہا آپ ہیں(3)

---

[1]...مستدرك، کتاب معرفة الصحابة، باب وعدني ربي...الخ، /، حدیث:.

[2]...ابنِ ماجه، کتاب المساجد والجماعات، باب من بنى لله مسجدا، صفحه: 127، حدیث: 737۔

[3]...سفینۂ بخشش، ص ١٢.

## د ټولو نه افضل نسب والا

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد هم ځومره ځانګړے شان دے، دا هغه د اوچتې مرتبے هستئ دي چې د دوئي د نسب په شان په دنيا کښې يو نسب هم نشته.

صحابئ رسول حضرت عبدُالله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ ذيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک مخلوق په 2 قِسمونو کښې تقسيم کړو نو زه ئې په هغوئي کښې په افضل قسم کښې اوساتلم، بيا ئې هغه 2 قِسمه په 3 قِسمونو کښې تقسيم کړو نو زه ئې په دې 3 کښې په ټولو کښې په افضل او بهترين قِسم کښې اوساتلم، بيا ئې د هغه 3 قِسمونو نه قبيلے جوړې کړې نو زه ئې د ټولو نه په افضل او اعلٰی قبيله کښې اوساتلم، بيا ئې قبيلے په کورَنو کښې تقسيم کړې نو زه ئې د ټولو نه په افضله او بهترينه کورنئ کښې اوساتلم، الله پاک فرمائي:

اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَیْتِ وَ یُطَهِّرَكُمْ تَطْهِیْرًا ﴿۳۳﴾

(پ22، الاحزاب:33)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: اے د نبـي کور والـؤ! الله خو هم دا غواړي چې ستاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او تاسو پاک کړي او ښه مو صفا کړي.

(شرف المؤبد، مترجم، ص:۹۶)

## دې ته اووئيلے شو سِدره والا

د امام باقِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے، د نبيانو نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما خواته جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام راغلو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د الله پاک په حکم باندې ما د زمکې مشرق او مغرب، غرونه او صحراګانے چاڼ کړې، ما ته د عربو نه بَل بهتر يو قوم ښکاره نه شو، بيا الله پاک حکم اوکړو نو ما په عربو کښې لټون شروع کړو، ما ته د مُضَر نه بهتره بَله قبيله ميلاؤ نه شوه، بيا الله پاک حکم اوکړو، ما په مُضَر کښې لټون شروع کړو نو ما ته د بنو کنانه نه بهتر څوک ښکاره نه شو، بيا حکم اوشو، ما په بنو کنانه کښې لټون اوکړو، ما ته د قريش نه بهتر څوک ميلاؤ نه شول، بيا په حُکمِ رَبَّاني سره ما په قريش کښې لټون اوکړو نو د بنو هاشِم نه بهتر څوک په نظر رانغلل، بيا په بنو هاشم کښې د ټولو حکم اوشو، ما لټون اوکړو نو څوک هم راته ستاسو نه بهتر، ستاسو نه افضل په نظر رانغلل.

يهى بولے سدره والے، چمنِ جہاں کے تھالے

سبھى ميں نے چھان ڈالے، تيرے پائے کا نہ پايا

تجھے يک نے يک بنايا، تجھے حمد ہے خدايا

**وضاحت:** حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام هم دغه اووئيل چې اے کريم محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ټوله دنيا چاڼ کړه خو ستاسو نه بهتر راته څوک هم په نظر رانغلل، تعريف دے د هغه رښتيني خدائے واحِد کوم چې تاسو بے مثله او بے مثاله جوړ کړئ.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه: د ساداتِ کرام په نسب کښې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه واخله تر د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پورې چې څومره هم پلار نيکونه دي، ټول ډير فضيلت والا، ټول ډير د اوچتې مرتبے خاوندان دي. معلومه شوه: څنګه نسب چې ساداتِ کرامو ته نصيب دے، داسې نسب په دنيا کښې د بَل هيچا نشته.

## حسنین کریمین ته به ئې په خپل اولاد باندې ترجیح ورکوله

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د دورِ خلافت واقعه ده، یو ځل مدینهٔ پاک ته مالِ غنیمت راوړے شو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د هغه مال په تقسیمولو شروع اوکړه، صحابهٔ کرام علیہم الرضوان راتلل، خپله حصه ئې وړله، په دې کښې حضرت امام حسن مجتبٰی رضی اللہ عنہ هم تشریف راوړلو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ اوفرمائیل: بِالرَّحْبِ وَالْكَرَامَةِ یعنې (هر کلے!) ستاسو د پاره عزت او احترام دے. بیا فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ هغوئي له زر درهمه (د سپینو زرو سِکې) ورکړې. د دې نه پس امام حُسَین رضی اللہ عنہ تشریف راوړلو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د هغوئي هم دغه شان احترام اوکړو او هغوئي له ئې هم زر درهمه ورکړه. د دې دواړو شهزادګانو، سَیدانو نه پس د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ خپل ځوئ حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ حاضر شو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ هغوئي له د 1000 درهمو په ځائے 500 درهمه ورکړه. حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ عرض اوکړو: اے اَمِیرُ الْمُؤمِنِین! امام حَسَن او حُسَین رضی اللہ عنہما لا ماشومان وو، زه هغه وخت هم د دِین د خدمت د پاره د سر نه تیر ووم، په جهاد کښې به مې شرکت کولو، د دې باوجود تاسو هغوئي له زر زر درهمه ورکړه او ما له مو 500 راکړه؟ د دې اوریدلو سره د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ په زړه کښې د اهلِ بیتو د محبت سمندر په چپو شو، هغوئي د اهلِ بیتو د مینې په ډکه جذبه کښې اوفرمائیل: آو جي! بالکل! (ته چې خنګه وائې، خبره هم داسې ده خو که ته د دوئي برابر حصه اخستل غواړې نو) اِذْهَبْ فَأْتِنِیْ بِاَبٍ كَاَبِیْهِمَا لاړ شه ورومبے ته د حسنینِ کریمین رضی اللہ عنہما د والد په شان والد راوله. وَاُمٍّ كَاُمِّهِمَا د هغوئي د مور بي بي په شان مور

راوله!وَجَدٍّ كَجَدِّهِمَا د هغوئي د نيكه بابا جان په شان نيكه، وَجَدَّةٍ كَجَدَّتِهِمَا د هغوئي د نيا په شان نياوَعَمٍّ كَعَمِّهِمَا د هغوئي د ترۀ په شان ترۀوَخَالٍ كَخَالِهِمَا د هغوئي د ماما په شان ماما راوله! بيا د هغوئي برابري هم اوكړه خو ياد ساته! تۀ به دا اونکړے شې، ځکه چې اَبُوْهُمَا فَعَلِيُّ الْمُرْتَضٰى د دوئي والد عَلِـيُّ المُرتضٰى شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ دے اُمُّهُمَا فَفَاطِمَةُ الزَّهْرَاء د دوئي مور سيده فاطمةُ الزهرا رضی اللہ عنہا ده جَدُّهُمَا مُحَمَّدُنِ الْمُصْطَفٰى د دوئي نيكه محمد مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم دے جَدَّتُهُمَا خَدِيْجَةُ الْكُبْرٰى د دوئي نيا سيده خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا ده عَمُّهُمَا جَعْفَرُ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ د دوئي ترۀ حضرت جعفر بن ابي طالب رضی اللہ عنہ دے خَالُهُمَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم د دوئي ماما حضرت ابراهيم بن رسولُ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم دے او خَالَتَاهُمَا رُقَيَّةُ وَاُمُّ كُلْثُوْمٍ اِبْنَتَا رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم د دوئي تروريانې د رسول الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم لونړه سيده رقيه او اُمِّ كلثوم رضی اللہ عنہما دي.[1]

کیا بات رضا اس چمنستانِ کرم کی | زہرا ہیں کلی جس میں حسین اور حسن پھول

## په سُنتِ فاروقي باندې عَمَل اوکړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** معلومه شوه: چې اولادِ رسولِ پاک صلی اللہ علیہ والہ وسلم د نسب په لحاظ سره د جدا شان مالِکان دي، د دوئي په شان نسب د بَل هيڅ چا هم نصيب نه دے، ورسره د دې واقعے نه دا هم معلومه شوه چې کله هم څه څيز تقسيمول وي نو د ساداتِ کرامو احترام په نظر کښې د ساتلو سره دوئي له غبرګه (ډبل) حصه ورکول پکار دي، دا سُنتِ فاروقي دے.

[1] رياض النضرة، ج۱، ص۳۴۰

اَلْحَمْدُلِلّٰه! عاشقِ صحابه و اهلِ بیت، شیخ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم د دې سنتِ فاروقي عامِل دے، هغوئي د ساداتِ کرامو ډېر عزت کوي، د ملاقات په وخت که چرې اووئیلے شي چې دے سَیِّد صاحب دے نو ډېر ځل لیدلے شوي دي چې هغوئي ډېر په عاجزئ سره د سید زاده لاسونه ښکلوي، هغوئي د ځان سره کښینوي، د ساداتِ کرامو د بچو سره ډېر زیات محبت او شفقت کوي، د څه تقسیمولو په وخت ساداتِ کرامو له غبرګه (ډبل) حصه ورکوي، کله کله د یو سید زاده لیدلو سره ډېر خوشحالیږي:

تیری نسل پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا | تو ہے عین نور تیرا سب گھرانا نور کا

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وسیله دې الله پاک مونږ ته د ساداتِ کرامو د ادب و احترام توفیق نصیب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

حُبِّ اہلِ بیت دے آلِ محمّد کے لئے | کر شہیدِ عِشق حمزہ پیشوا کے واسطے
دو جہاں میں خادمِ آلِ رسول اللہ کر | حضرتِ آلِ رسولِ مقتدا کے واسطے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اهلِ بیتو د نسب یو خاصیت

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! یوه خو دا خبره ده چې د ساداتِ کرامو نسب ډېر فضیلت

---

[1] وسائلِ بخشش، ص257.

والا دے، د دې سره سره د دې پاک او اوچتې مرتبے والا نسب يو اهم خاصيت دا هم دے چې د قيامت په هغه وحشت ناکه ورځ چې کله به ټولې خپلولئ ماتې شي، مور به خپل ځانګړے بچے پرېږدي، پلار به د خپل ځوي لاس پرېږدي، څوک به هم پوښتنه نه کوي چې څوک د چا ځوي او د چا ورور دے خو قربان شم! د اهلِ بيتِ پاک د شان نه! چې د دوئي پاک نسب هغه مبارکه او مضبوطه رسئ ده، کومه چې هډو شلېږي نه، دا نسب په دنيا کښې هم قائم دے، په قبر کښې به هم قائم وي، په حشر کښې، په ميزان باندې، په پل صراط باندې په هر ځائے کښې به پکار راځي. روايت دے: يوه ورځ د جانِ کائنات، سيدِ سادات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترور بي بي حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته چا اووئيل چې " د الله پاک په بارګاه کښې به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قرابت (خپلولي) تاسو ته هيڅ فائده اونه رسوي." شافِعِ اُمَم، شاهِ عرب وعجم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دې خبرې پته اولګيده نو په هغوئي باندې د جلال کيفيت راغلے او حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې اوفرمائيل: اے بلاله! خلق راجمع کړه...!! بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په منبر باندې تشريف فرما شو، د الله پاک حمد و ثنا ئې بيان کړله او اوئې فرمائيل: "څه حال دے د هغه خلقو کوم چې دا ګمان کوي چې **زما قرابت (خپلولي)** به فائده نه رسوي؟ د قيامت په ورځ به هر سبب او نسب (نسبي او د سخر ګنئ خپلوان) مات شي خو **زما سبب** او **نسب** چې دا په **دنيا** او **آخرت** کښې تړلے شوے دے."[1]

علامه سيد ابن عابدين شامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تقريباً هم د دې الفاظو حديث د نورو ډېرو سندونو نه روايت دے او د دې نه علاوه هم ډېرحديثونه دي د کومو نه چې دا

[1]… مجمع الزوائد، کتاب علامات النبوة، باب فی کرامة...الخ، /، حديث: ، ملتقطاً.

ثابتيږي چې د رسولِ کريم، رؤف رحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نسبِ پاک نه به د هغوئي اولاد ته ضرور نفع رسي، (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!) دوئي به د دُنيا نه په ښه حالت کښې رخصتيږي او په آخرت کښې به نجات بياموي. بے شکه د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولادِ اطهار په دُنيا او آخرت کښې ډير لوئے سعادت دے.[1]

| | |
|---|---|
| آپ کی نسبت اے نانائے حسین! | ہے بڑی دولت اے نانائے حسین![2] |

## اولادِ مصطفٰی به د قيامت په ورځ چرته وي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولاد چې څنګه په دنيا کښې سرداران دي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په آخرت کښې به هم په سکون او وقار، د دوزخ نه لرې او د جنت حقدار وي. په سيپاره 27، سُوْرَةُ الطُّوْر، آيت نمبر 21 کښې ارشادِ رَبُّ العباد دے:

| | |
|---|---|
| وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ اتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَ مَاۤ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ ؕ (پ27، الطور: 21) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او کومو خلقو چې ايمان راوړو او د دوئي (چې کوم) اولاد د ايمان سره د دوئي پيروي اوکړه نو مونږه د دوئي اولاد د دوئي سره ميلاؤ کړو او د دوئي (د والدينو) په عمل کښې مو هيڅ کمے اونکړو. |

په تفسير نور العرفان کښې دي: يعني که د مومنانو اولاد مومنان وي نو مونږ به اولاد په جنت کښې د مور و پلار سره ساتو، بيل به ئې نه ساتو. د دې نه معلومه شوه چې د مور

[1]...رسائل ابن عابدين، الرسالة الاولى، العلم الظاهر فى نفع النسب الطاهر، /، ملخصاً.

[2]...وسائل بخشش، ص۲۵۷.

و پلار په وسيله باندې د اولاد درجے اوچتيږي. د حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولاد نبيان نه دي خو د حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره به په جنت کښې وي، وسيله ثابته شوه. دا هم معلومه شوه چې جنتي انسان به د خپل بال بچ سره په جنت کښې اوسيږي، هم دغه شان که د پلار درجه ادنٰی ده او د اولاد اعلٰی ده نو پلار ته به د ترقئ ورکولو سره د اولاد خوا له رسولے شي. ځکه اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! بي بي آمنه، حضرت عبدُ الله (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا) او د حضور (صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) اولاد به د حضور (صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) سره وي.[1]

## اهلِ بيت د ټولې دُنيا د پاره امان دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اهلِ بيتِ پاک په خاصيتونو کښې يو خاصيت دا هم دے چې اهلِ بيتِ پاک يعني زمونږ د آقا و مولٰی مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تر قيامته پورې راتلونکے اولادِ پاک د دې دُنيا د پاره امان دے. په حديث شريف کښې دي: اَلنُّجُوۡمُ اَمَانٌ لِاَهۡلِ السَّمَآءِ وَاَهۡلُ بَيۡتِیۡ اَمَانٌ لِاَهۡلِ الۡاَرۡضِ ستوري د آسمان والؤ د پاره د امن سبب دے او زما اهلِ بيت د زمکے والؤ د پاره د امن سبب دے.[2] په يوروايت کښې دي: زما اهلِ بيت د زمکے والؤ د پاره امان دے، چې کله زما اهل بيت پاتې نه شي، هغه وخت به په زمکې والؤ باندې هغه نښې ظاهرې شي، د کومې چې د دوئي سره وعده شوې وه.[3]

علمائے کرام فرمائي: د دُنيا نه د ساداتِ کرامو تلل د قيامت په نښو کښې يوه نښه ده، يعني چې کله په دنيا کښې يو هم سيد زاده موجود پاتې نه شي، بيا به قيامت راځي. او

---

[1] ... تفسير نور العرفان، پ٢٧، الطور، تحت الآية:٢١.

[2] الشرف المؤبد ص٤٦

[3] الشرف المؤبد، مترجم، ص:٧٧

په دې کښې حکمت دا دے چې قیامت به په بدترینو خلقو باندې راځي ځکه چې ساداتِ کرام د دنیا بهترین خلق دي.[1]

## د اولادِ پاک محبت فرض دے

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت!** یاد ساتئ! زمونږه د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولادِ پاک محبت د دین حصه ده، ځکه د خوږ آقا، احمدِ مجتبٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو شهزادګانو، د ټولو شهزادګو سره محبت او عقیدت ساتل، د حسنینِ کریمین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه واخله تر ننه پورې چې څومره هم ساداتِ کرام دي، د هغه ټولو محبت کول، د هغوئي احترام کول، د هغوئي عِزَّت کول په مونږ ټولو باندې لازم دي. الله پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ (پ25، الشوریٰ:23) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: تاسو اوفرمائې: زه په دې باندې ستاسو نه هیڅ معاوضه نه غواړم خو د قرابت محبت. |

علّامه بَغوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: د دې آیت مبارک یوه معنٰی دا ده چې (اے خلقو! زه تاسو ته دین ښائم، ستاسو د دُنیا او آخرت خیرونه تاسو ته در رسووم) په دې باندې زه ستاسو نه هیڅ قسمه اجر، څه بدله نه غواړم، البته! زه تاسو ته د قرابت دارئ د محبت نصیحت کووم. د دې نه معلومه شوه چې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت، د هغوئي د خپلوانو محبت د دین د فرائضو نه دے. (بغوی)

[1] الشرف المؤبد، مترجم، ص:۷۷

## تر هغه وخته پورې مومن نشي کيدے

سرکارِ نامدار، د دوارو جهاونو مالک و مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ نَفْسِهٖ يو بنده تر هغه وخته پورې مومن نشي کيدے تر څو چې زه هغه ته د هغه د ځان نه زيات محبوب نشم. وَذَاتِىْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ ذَاتِهٖ او زما ذات هغه ته د خپل ذات نه زيات محبوب نه شي. وَتَكُوْنَ عِتْرَتِىْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ عِتْرَتِهٖ او زما اولاد هغه ته د خپل اولاد نه محبوب نه شي. وَاَهْلِىْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ اَهْلِهٖ او زما اهلِ بيت هغه ته د خپل کور والؤ نه زيات خوښ او محبوب نه شي.[1]

## محبتِ اهلِ بيت د عشقِ رسول نتيجه ده

د حضرت عبدُالله بن عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دے، د مدينې تاجدار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَحِبُّوا اللهَ لِمَا يَغْذُوْكُمْ مِنْ نِعَمِهٖ د الله پاک سره محبت کوئ ځکه چې هغه تاسو ته نعمتونه عطا کوي، وَاَحِبُّوْنِىْ بِحُبِّ اللهِ او د الله پاک د محبت په سبب زما سره محبت کوئ (ځکه چې زه حبيبُ الله يم) وَاَحِبُّوْا اَهْلَ بَيْتِىْ بِحُبِّىْ او زما د محبت په سبب زما د اهلِ بيتو سره محبت کوئ.[2]

حُبِّ سادات اے خدا! دے واسِطہ | اہلِ بیتِ پاک کا فریاد ہے

## د الله د محبت نښه

په يو روايت کښې دي: څوک چې د الله پاک سره محبت ساتي، هغه د قرآن سره محبت

[1] ... شعب الايمان، باب فى حب النبى صلى الله عليه وسلم، ۱۸۹/۲، حديث: ۱۵۰۵.

[2] ترمذى، كتاب المناقب، باب مناقب اهل بيت النبى، ۴۳۴/۵، حديث: ۳۸۱۴

ساتي او څوک چې د قرآن سره محبت ساتي هغه زما سره محبت ساتي او څوک چې زما سره محبت ساتي هغه زما د اصحابو او خپلوانو سره محبت ساتي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** معلومه شوه: د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو سره محبت ساتل د عشقِ رسول نتيجه ده، د مؤمن بنده پيژندګلو(پهچان) دا ده چې هغه د الله پاک سره محبت کوي، د الله پاک سره د محبت کوونکي پيژندګلو دا ده چې هغه د قرآنِ کريم سره محبت کوي او د قرآنِ کريم سره د محبت کوونکي پيژندګلو دا ده چې د هغه په زړه کښې د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت وي او د چا په زړه کښې چې محبتِ رسول موجود دے، د هغه پيژندګلو دا ده چې د هغه د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان سره هم محبت کوي او هغه د اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم سره هم محبت کوي. د دې ټول تعلق ميلاوهلو نتيجه دا را اوختله چې د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتِ پاک محبت د مسلمانئ نښه ده.

| | |
|---|---|
| اَہلِ سُنّت کا ہے بیڑا پار اَصحابِ رسول | نجم ہیں اور ناؤ ہے عترت رسول اللہ کی |

**وضاحت:** يعني زمونږه د عاشقانِ رسول بيړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دنيا، قبر، قيامت، پل صراط هر ځائے کښې پار ده ځکه چې د الله پاک په فضل مونږ د هدايت د ستورو يعني د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان سره محبت کوو او د فتنو د طوفان نه بچ کوونکي کشتئ يعني د مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد سره هم محبت کوو.

## د سرکار قرب موندلو والا خوش قسمته

د حضرت عبدُالله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکار عالي وقار، مکي مدني

[1] الصواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، المقصد الثانی...الخ، ص۱۷۳

تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې زما د صحابؤ سره، زما د ازواجِ پاک (يعني اُمهات المُؤمنين) سره او زما د اهلِ بيتو سره عقيدت لري، په دوئي کښې د چا هم بد نه وائي او د دوئي په محبت باندې د دُنيا نه رخصتيږي، هغه به د قيامت په ورځ زما سره وي. [1]

## د عاشقانِ اهلِ بيتو جَنَّت ته د داخليدو نظاره

د امام عالي مقام، امام حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ حضرت مولٰى علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مالكِ جنت، قاسمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے علي! هغه 4 کسان کوم چې به مخکښې جنت ته ځي په هغوئي کښې يو زه يم، يو ته ئې او 2 ستا ځامن حَسَن او حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا دي، زمونږ اولاد به په مونږ پسې وي او په هغوئي پسې به زمونږ بيبياني وي. حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰــی، شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږه ډله (يعني زمونږ سره محبت کوونکي) به چرته وي؟ اوئې فرمائيل: ستاسو ډله به په تاسو پسې شاته شاته جنت ته ځي.

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خومره ښکلے شان دے...!! لږ تَصَوُّر خو اوکړئ! هغه به څومره ښکلې نظاره وي، زمونږ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰــی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، حضرت مولا علـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او حسنينِ کريمين رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا به په يو ځائے جنت ته داخليږي، په دوئي پسې به شا ته شا ته ساداتِ کرام وي او که الله پاک اوغوښتل نو

---

[1] الرياض النضرة، الباب الاول، ذكر ماجاء فى الحث على حبهم والاحسان اليهم ... الخ، ۲۲/۱

اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! مونږه عاشقانِ صحابه و اهل بيت به په هغوئي پسې شاته جنت ته اورسو.[1]

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے
پُھول رحمت کے جھڑیں گے، ہم اُٹھاتے جائیں گے

## رښتينے عاشقِ اهلِ بيت څوک...؟

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! رښتينے عاشقِ اهلِ بيت څوک وي؟ دا هم واورئ! روايت دے: يوه ورځ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خطبه ورکوله، په دې کښې امام عالي مقام امام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تشريف راوړو، حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ زر خطبه مکمل کړه او د منبر نه ښکته راکوز شو، بيا امام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ منبر ته تشريف يوړلو، هغوئي د الله پاک حمد و ثنا بيان کړله، بيا ئې اوفرمائيل: ما ته زما نيکه بابا اووئيل چې الله پاک فرمائي: د عرشِ اعظم د ښې لاندې د شين رنګ يوه تختئ ده، په دې باندې ليکلي دي: اے د آلِ محمد ډلې! په تاسو کښې چې څوک هم د قيامت په ورځ باندې دلَآ اِلٰهَ اِلَّا الله د ګواهئ سره راځي، الله پاک به هغه جنت ته داخلوي.

دا ئې چې واوريدل نو حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوښتنه اوکړه: اے ابو عبدُ الله (يعني امام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ)! د آلِ محمد ډله کومه يوه ده؟ اوئې فرمائيل: هغه کوم چې شَيخَين يعني ابو بکر و عمر ته، عثمانِ غني ته، زما والدِ محترم مولٰی علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) ته او اے معاويه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ)! تاسو ته رد بد نه وائي، هغه د آلِ محمد ډله ده.[2]

---

[1] ابنِ عساکر، ج۱۴، ص:۱۶۹

[2] ابن عساکر، ج۱۴، ص:۱۱۴

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! معلومه شوه: څوک چې د صحابهٔ کرامو عَلَیْھِمُ الرِّضْوَان هم ادب کوي، د نبـي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څلورو يارانو ادب هم کوي او د خالُ المُؤمِنين (يعني د ټولو مسلمانانو د ماما جان) حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خلاف هم خُله نه برسيره کوي، هغه رښتينے عاشقِ اهل بيت دے.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیِ نبی! | جنّتی جنّتی | سب صحابیات بھی! | جنّتی جنّتی |
| چار یارانِ نبی! | جنّتی جنّتی | حضرتِ صدّیق بھی! | جنّتی جنّتی |
| اور عُمرِ فاروق بھی! | جنّتی جنّتی | عُثمانِ غنی! | جنّتی جنّتی |
| فاطمہ اور علی! | جنّتی جنّتی | ہیں حسن و حسین بھی! | جنّتی جنّتی |
| والِدَین نبی! | جنّتی جنّتی | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی جنّتی |
| اور ابو سُفیان بھی! | جنّتی جنّتی | ہیں معاویہ بھی! | جنّتی جنّتی (1) |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اهلِ بيت سره د محبت صِله

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! امام فخرُ الدِّين رازي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په تفسيرِ کبير کښې د ايمان نه ډک يو حديثِ پاک ليکلے دے، راځئ! اورو ئې: زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَا مَنۡ مَّاتَ عَلٰی حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ مَاتَ شَهِیۡدًا يعني واورئ! څوک چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو هغه شهيد دے اَلَا وَمَنۡ مَّاتَ عَلٰی حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ مَاتَ مَغۡفُوۡرًا لَّهٗ واورئ! څوک چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو، د هغه ګناهونه به بخښلے شي

[1]…وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

اَلَاوَمَنْ مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ مَاتَ تَائِبًا واورئ! کوم کَس چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو هغه د توبه کولو سره وفات شو اَلَاوَمَنْ مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ مَّاتَ مُؤْمِنًا مُّسْتَکْمِلَ الْاِيْمَانِ واورئ! کوم کَس چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو هغه د پوره ايمان سره د دُنيا نه لاړے اَلَا وَمَنْ مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ بَشَّرَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ بِالْجَنَّةِ ثُمَّ مُنْكَرٌوَّ نَكِيْرٌ واورئ! څوک چې د اهل بيت په محبت کښې وفات شو هغه له ملک المَوت حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام او بيا منکر نکير د جنت زيرے ورکوي اَلَا وَمَن مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰل مُحَمَّدٍ يُزَفُّ اِلَى الْجَنَّةِ كَمَا تُزَفُّ الْعُرُوْسُ اِلٰى بَيْتِ زَوْجِهَا واورئ! څوک چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو هغه د داسې عزت سره د جنت په لور بوتللے شي لکه څنګه چې ناوې د واده د ځلمي کور ته ليږلے شي اَلَاوَمَن مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰل مُحَمَّدٍ فُتِحَ لَهُ فِىْ قَبْرِهٖ بَابَانِ اِلَى الْجَنَّةِ واورئ! څوک چې د اهلِ بيت په محبت کښې وفات شو د هغه په قبر کښې د جنت دوه دروازے برسيره کولے شي اَلَاوَمَن مَّاتَ عَلٰى حُبِّ اٰلِ مُحَمَّدٍ جَعَلَ اللّٰهُ قَبْرَهٗ مَزَارَ مَلَائِكَةِ الرَّحْمَةِ واورئ! څوک چې د اهل بيت په محبت کښې وفات شو د هغه قبر ته فرښتې د زيارت د پاره راځي.[1]

## د آلِ پاک د معرفت برکت

حضرت علامه قاضي عياض مالکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **شِفَا شريف** کښې نقل فرمائي: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د آلِ **مُحَمَّد** معرفت (يعنې پيژندګلو) د دوزخ نه نجات، د دوئي سره محبت په پل صراط باندې آساني او د دوئي سره نيک سلوک کول د عذابِ الٰهى نه امان دے.[2]

---

[1] تفسير کبير، ۷/۳۹۰

[2] ...الشفا، الباب الثالث، فصل فى توقيره وبر آله...الخ، الجزء الثانى، ص۴۰

سُبۡحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! د **اولادِ مصطفٰـی** سره د محبت څومره ځانګړي شانونه دي، څوک چې د دې محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، هغه شهيد دے، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، د هغه د پاره بخښنه ده، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دنيا نه لاړ شي، هغه کامل ايمان والا دے، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دنيا نه لاړ شي، هغه ته د جنت زيرے ورکولے شي، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، هغه ته به په عِزَّت سره جَنَّت ته داخله ميلاويږي، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، د هغه په قبر کښې به جنتي دروازې بيرته کيږي، څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، د رحمت فرښتې د هغه قبر ته د زيارت د پاره راځي او څوک چې د آلِ **نبي** د محبت سره د دُنيا نه لاړ شي، هغه ته به په پل صراط باندې امن ورکولے شي. الله پاک دې مونږ ته هم دا پاک محبت نصيب کړي.

حُبِّ اہلِ بیت دے آلِ محمّد کے لئے
کر شہیدِ عشق حمزہ پیشوا کے واسطے
دو جہاں میں خادمِ آلِ رسول اللہ کر
حضرتِ آلِ رسولِ مقتدا کے واسطے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اولادِ اطهار شميره(تعداد)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل! د آلِ نبـي معرفت (يعنې پيژندګلو مثلاً يعنې د هغوئي په باره کښې معلومات حاصلول، د هغوئي قدر پيژندل وغيره) د دوزخ نه د

نجات ذریعه ده. راځئ! د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اولاد په باره کښې لږ شان معلومات زده کوو:

د علمائے کرامو اتفاق دے چې د تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګۍ 4 دي (نه 3 دي، نه 5). البته د شهزادګانو په شمیر(تعداد) کښې اختلاف دے. زیات تر علماء دا فرمائي چې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اولادِ پاک شمیر 7 دے. په دې کښې 4 شهزادګۍ دي: (1) حضرت زینب (2) حضرت رُقیه (3) حضرت اُمِّ کلثوم او (4) حضرت فاطمهُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْھُنَّ . او درې شهزادګان دي: (5) حضرت قاسِم (6) حضرت عبدُ الله او (7) حضرت ابراهیم رَضِیَ اللہُ عَنْھُم.

د حضورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول شهزادګان په وړوکوالي کښې وفات شوي وو او شهزادګۍ ئې تر ډیرې مودے پورې ژوندئ وې، حضرت زینب، حضرت رقیه او حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللہُ عَنْھُنَّ خو د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند مبارک کښې وفات شوي وے، خلورمه شهزادګۍ حضرت فاطمهُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْھَا د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري نه پس ژوندئ وه، په وړومبنو دریو شهزادګو کښې د یوې اولاد هم نشته، صرف د حضرت فاطمهُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْھَا نه اولاد مخکښې خور شوے دے. اوس چې په دُنیا کښې څومره سیدان دي، هغه ټول د حضرت امامِ حَسَن مجتبٰی او د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْھُمَا په اولاد کښې دي.

د اولادِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې د تفصيلي معلوماتو د پاره د مکتبة المَدينه مختصر کتاب "آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کے شہزادے و شہزادیاں" اولولئ!

اور جتنے ہیں شہزادے اس شاہ کے
ان سب اہلِ مکانت پہ لاکھوں سلام
خونِ خیر الرسل سے ہے جن کا خمیر
ان کی بے لوث طینت پہ لاکھوں سلام (1)

**وضاحت:** په دې شعر کښې سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اولاد باندې سلام عرض کړے دے، عرض کوي: هغه پاکې هستيانې د کومو پيدائش چې د سَيِّدُ المُرسلين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې وينې نه اوشو، د هغوئې په بے عيبه او بے داغه فطرت باندې دې ډير ډيرسلام نازل وي.

## د اهلِ بيت سره د بُغض لرونکو انجام

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لکه څنګه چې د اولادِ مصطفٰے سره د محبت کولو بے شميره فضيلتونه او برکتونه دي، هم داسې د دوئې سره په بغض او دښمنئ کولو ډير سخت وعيدونه هم دي. په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې غواړي چې زما عمر دې ډير وي او آرمانونه مې پوره شي هغه دې زما د اهل بيتو سره په ښه طريقه [او عِزَّت سره] وړاندې راځي او څوک چې د دوئې سره په ښه طريقه وړاندې رانشي، د هغه عمر کمولے شي او داسې کَس به د قيامت په ورځ په دې حالت کښې زما خوا له راځي چې د ده رنګ به تور وي.[2] د الله پاک پناه!

---

[1] ...حدائق بخشش، ص٣٠٩.

[2] الصواعق المحرقه، ص١٠٧

## په اهل بيت باندې په ظلم کوونکو باندې جنت حرام دے

سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم کَس چې زما په اهلِ بيتو باندې ظلم اوکړو او ما ته ئې زما د اولاد په باره کښې تکليف را اورسولو، په هغه باندې جنت حرام کړے شو.[1]

## د اهلِ بيت سره دښمنئ ساتلو والا دوزخي

د حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکارِ ذيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که يو کَس د کعبې شريفې او مقامِ ابراهيم ترمينځه لمُونځ اوکړي، هم هلته پاتې شي او روژې اونيسي، بيا هغه د اهلِ بيت په دښمنئ کښې مړ شي نو هغه به دوزخ ته ځي.[2]

| باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اَہلِ بیت | تم کو مژدہ نار کا اے دُشمنانِ اَہلِ بیت |
| --- | --- |

**وضاحت:** ځوک چې د اهلِ بيتِو سره محبت کوي، د هغوئې تعريفونه بيانوي، د هغوئې د پاره د جنت باغونه دي او د اهلِ بيتو د دښمن د پاره د دوزخ غندنه ده.

## که ساداتِ کرام ګناه اوکړي نو بيا...!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا هم ياد ساتئ که چرې خدائے دې نه کړي ځوک سيد صاحب په ګناهونو کښې مشغول وي، بيا هم د هغه د بے ادبئ اجازت نشته، د هغه ادب به هم هغسې قائم وي ځکه چې د ساداتِ کرامو ادب د هغوئې د ذات په وجه نه بلکه د ساداتو د سردار، رسولِ مختار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نسبت په

[1] الشرف المؤبد لآل محمد للنبهانی ص 259

[2] الشرف المؤبد ص ۹۲، اَلْمُسْتَدْرَک لِلْحاکِم، ۴/۱۲۹، ۱۳۰، حدیث: ۴۷۶۶

وجه باندې دے، ځکه که چرته يو سید صاحب د شریعت خلاف په څه کار کښې مصروف په نظر راشي بیا هم د هغوئي خلاف په زړه کښې څه خیرے نه دي راوستل پکار بلکه په ادب سره هغوئي ته د نیکۍ دعوت ورکول پکار دي. علامه ابنِ حجر رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه لیکي: یو امام صاحب به د سیدانو ډیر زیات تعظیم کولو، چا د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: تاسو د سیدانو دومره تعظیم ولې کوئ؟ امام صاحب اوفرمائیل: یو سید صاحب وو کوم چې به په فضول کارونو کښې مصروف وو، کله چې هغه وفات شو نو زما استاذ صاحب د هغه جنازه اونکړه، وروستو په خوب کښې زما د استاذ صاحب ته د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم سره د هغوئي شهزادګۍ حضرت خاتونِ جنت [حضرت فاطمه] رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم وه، سیدهٔ کائنات رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زما د استاذِ محترم نه مخ واړولو، استاذِ محترم چې په ادب سره خواست اوکړو نو اوئې فرمائیل: آیا زمونږ د اولاد د عزت کولو د پاره زمونږه عزت او عظمت کافي نه دے...!![1] یعني زمونږ په اولاد کښې که تاسو ته څه نیکي په نظر رانغله نو مونږه خو د عزت او احترام خاوندان یو، زمونږ د عزت په خاطر زمونږه د اولاد عزت کوئ!

الله پاک دې مونږ ته د سیدانو د ادب و احترام توفیق نصیب کړي.

الله پاک دې مونږه د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ پاک رَضِيَ اللهُ عَنْهُم با ادبه، رښتیني عاشقان قائم اوساتي او د هغوئي د دښمنۍ او سپکاوي نه مو دې همیشه بچ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم

محفوظ سدا رکھنا شہا بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

[1] الشرف المؤبد مترجم، ص:۲۹۱

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د هفته وار رسالے مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو محبت په زړه کښې د زياتولو، د ساداتِ کرامو باادبه جوړيدلو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن اونيسئ او د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره حصّه واخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دين و دنيا بے شميره خيرونه در نصيب شي. د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه هم ده.

شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د شپې په مدني مذاکره کښې د يوے رسالے اعلان فرمائي، ورسره دُعاګانے هم کوي، وړوکي شان رساله وي کومه چې په ټوله هفته کښې لوستل وي، تاسو هم هِمَّت اوکړئ! هره هفته په مدني مذاکره کښې هم خامخا شرکت کوئ، د کومې رسالے اعلان چې اوشي، هغه حاصلوئ، لولئ ئې بلکه کور والؤ ته ئې هم اوروئ!اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د عِلمِ دِين زده کولو ثواب به هم ميلاويږي، ډير معلومات به هم په لاس راځي او د وخت د يو ولئ کامِل دعاګانے به هم نصيب کيږي.
راځئ! ستاسو د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اوروم:

## د کربَلا کا خونيں منظر رسالے مدني سپرلے

د دعوتِ اسلامي د يو مبلغ د بيان خلاصه ده: زمونږه خاندان د بد مذهبو سره تعلق لرلو، د ماشومتوب نه هم دا ذهن جوړ کړے شوے وو چې د عاشقانِ رسول علمائے کرامو او د چا دين داره ګَس خوا له هم مه ځئ ګني ګمراه به مو کړي. عاشقانِ رسول په مذهبي حليه کښې د ليدلو سره به هغوئي پسې ټوقې کول، فلمونه کتل، په ګناهونو کښې مصروفه اوسيدل زما معمول وو. زما د اصلاح ذريعه څه داسې جوړه شوه چې زما ماما کوم چې د

بد مذهبئ نه د توبے کولو سره د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن نيولې وه، يوه ورځ زما ماما ما له يوه رساله راکړه، د کومې نوم چې وو: کربلا کا خُونیں منظر. ما رساله کيښوده، چې نوم مې اولوستو نو ډير ښه راباندې اولګيدو، ما هغه رساله برسيره کړه او په لوستلو مې شروع اوکړه، د اهلِ بيتِ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره د عقيدت اظهار مې دومره په با ادبه انداز کښې په وړومبي ځل لوستلو، د ليکلو انداز دومره په زړه پورې او اثرناکه وو چې الفاظ ئې زما زړه ته کوزيدل، د رسالے لوستلو سره په کربلا والؤ باندې د شوو ظلمونو د سوچ کولو سره زه په ژړا شوم، د کربلا د واقعے په لړ کښې چې امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اصلاح کوم مدني ګلونه ورکړل، هغې خو زه حيران کړم، زه ئې چې په ژړا اوليدم نو زما خور زما خوا له راغله، ما هغې ته هم واوروله، هغه هم زما سره په ژړا شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقِ صحابه و اهلِ بيت په لاس ليکلے شوې رسالے برکت سمدستي ظاهر شو، ما او زما خور هغه وخت توبه کړه او د لمُونځ کولو نيت مو اوکړو. دا په نيغه لار د تللو وړومبے قدم وو، بيا په مزه مزه دروازے برسيره کيدلې، ما د دعوتِ اسلامي په هفته واره اجتماع کښې هم شرکت اوکړو، بيا په مزه مزه ټول کور والؤ هم د بد مذهبئ نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن ئې اونيوله.

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول |
| سنور جائے گی آخرت ان شآءَ اللہ | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت

اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د مقبرے د حاضرئ سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **(1)** د قبرونو زيارت کوئ ځکه چې دا د دُنيا نه د بے رغبتئ سبب دے او د آخرت يادګيرنه ور کوي.[2] **(2)** څوك چې د خپلو والدينو او د يو قبر له د هرې جُمُعے په ورځ ځي، د هغه به بخښنه اوشي او نيکو کار به اوليکلے شي.[3]

**اے عاشِقانِ رسول!** ❀ د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول سُنَّت دي او د اوليائے کرامو، شهيدانو قبرونو ته حاضريدل سعادت دے او هغوئي ته اِيصالِ ثواب خوښ عمل او ثواب دے ❀ مزار يا قبر له د تللو په وخت لاره کښې په فضول خبرو کښې مه مشغوله کيږی ❀ قبر ته سجدهٔ تعظيمي کول حرام دي او که د عبادت په نِيَّت وي نو کفر دے ❀ په مقبره کښې په هغه عامه لارې ځئ چرته به چې په تير وخت کښې کله هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوي جوړه شوي وي په هغې مه ځئ. په **فتاوٰی شامي** کښې دي: (په مقبره کښې قبرونه ورانولو سره) کومه لاره نوي ويستے شوي وي په هغې تلل حرام دي ❀ که چرته د نوې لارې ګمان هم وي بيا پرې هم تلل ناجائزه او ګناه ده ❀ د ډيرو اوليائے کرامو په روضو ليدل شوي دي چې د روضے

---

[1]...مشکوٰۃ،کتابُ:الْاِیمان، باب:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

[2]...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی زیارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔

[3]...شُعَبُ الایمان، جلد:6، صفحه:201، حديث:7901۔

زیارت کوونکو د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړے شوي دي او د پاسه پرې فرش جوړ کړے شوے دے، په داسې فرش خملاستل، تلل، اودریدل، د تلاوت او ذِکر و اذکار د پاره کښیناستل وغیره حرام دي، چرته چې داسې صورتِ حال وي نو هلته د لرې نه فاتحه لولئ ❀ په قبر د پاسه اګربتــئ مه لګوئ چې دا بے ادبي او بد فالي ده، که حاضریدونکو ته خوشبو رَسَوَل غواړئ نو د قبر خوا ته خالي ځائ وي هلته ئې اولګوئ چې خوشبو رَسَوَل محبوب دي ❀ د قبرونو د زیارت د پاره دا څلور ورځې بهتر دي: ګل، زیارت، جمعه او خیالي. د جمعې په ورځ د سحر لمَانځه نه پس د قبرونو زیارت کول افضل دي.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المَدینه د **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حصه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحات رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا
چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو

گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم
لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو[2]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ...550سنتیں اور آداب، صفحه:87تا90ملتقطاً۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:669۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡھُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵